AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۲۰

# لارورکي لارویان

## دریمه برخه

### نوی پوهنتون:

زموږ په ټولنه کې د دې ناځاپي منفي بدلونونو په لیدلو سره، واقعاً پر ما باندې یو قوي شوک راغی او هره شیبه به مې په زړه کې همدا ګرځېدل:
یا خدایه!
دا څه وشول، څه به کیږي او...
خو لکه مریض چې له انستیزي څخه را بیداریږي؛ ورو، ورو را ویښیدم، په نویو خبرو او نویو روابطوباندې پوهیدم.
شپه تیره شوه، په سبا یې پوهنتون ته لاړم، په دفتر کې مې څه نا بشپړعلمي تحقیقي کارونه وو، چې هغه را ټول او کور ته یې راوړم. په لاره کې مې خپل همکاران، د پښتو څانګې استادان صابر خویشکی او خالـق رشید ولیدل. له خوږې ستړې مه شې نه وروسته یې په تنده لهجه را ته و ویل:
«دا هم د راتګ وخت و چې ته له بهر نه بیرته راغلې؟ دلته اور بل شوی، خلک له اوره تښتي، ته بیرته ورته راغلې، راځه اوس یې ګا له!»
زه او استاد خالـق رشید په یوه دفتر کې سره کیناستو، هغه ته مې و ویل:
یو وار به دفتر ته لاړشو، چې زه خپل یاد داشتونه را واخلم. هغه له تمسخر او زړه خوږې نه ډکه خندا وکړه او وې ویل:
راځه!
دا وخت پوهنتون د ایران پلوه حزب وحدت د ټوپکیانوغنیمت شمیرل کیده. د ادبیاتو پوهنځي ودانۍ ته چې ور نږدې شوو، خالـق رشید را ته و ویل:
دفتر ته دې ګوره!
که ګورم کړکۍ ماتې او هر څه درې وړې وو.
له دفترنه هیڅ په لاس رانغلل. زما په یاد داشتونو او نیمه کارونو کې څو نیم کاره مقالې او یو نیم کاره کتاب و. دا کتاب «د خوشحال د کلایاتو نوملیک» نومیده. ما څو کاله په دې کتاب کار کړی و، بنایسته ډیر مواد مې را ټول کړي وو، څو نور کلونه یې غوښتل چې بشپړ شي، خو مخکې له بشپړیدو یې د ټوپکیانو چای او نغري ور تاوده کړي وو. دغه راز د سلو عنوانونو په شاو خوا کې، زما شخصي کتابونه هم تالا شوي وو.
ما د کتابونو، پانو او یاد داشتونو غم کاوه، خو ورو، ورو پوهیدم چې دا خلک زما د کتابونو، پانو، علمي کارونو، زده کړو، پوهنتون او... نه یوازې دا چې خیال نه ساتي او په غم کې یې نه دي؛ بلکې اصلاً یې په رسمیت هم نه پیژني او په مقابل کې د انسان وژنه، غلا، د خلکو سپکاوی، د تاریخي آثارو لوټ یا ورانول، د خلکو په ناموس باندې تیری او... د دوی اصلي دنده او ورځنی کار دی.
لکه ځینې موجودات چې په ژمني خوب څو میاشتې درانده ویده کیږي، زه هم د پیل په غوږ کې ویده وم، خو د دې شیانو په لیدلو او اوریدلو، ورو ـ ورو له درانه خوبه را ویښیدم. لکه د شاعر خبره:

### «رقیبانو اورلړونی د تنورکړم»

ډیر خلک لکه وچ لرګي په تناره کې وسوځیدل، خو زه اور لړونی شوم، هره ورځ سوځیدم. زه ناځاپي د ټوپکیانو د تناره اور لړونی شوم، هره ورځ د دوی په تناره کې سوځیدم. زما د کتابخانې کتابونه، زما لیکلي چاپ او نا چاپ آثار هم زما په شانې هره ورځ یوه، یوه پانه د ټوپکیانو د نغریو او بخاریو اورلړوني شول.
دا اورلګونه نه یوازې په کابل پوهنتون کې روانه وه، بلکې په ټولوهغو سیمو کې چې ټوپکیان حاکم وو، دا غمیزه د نورو غمیزو تر څنګ په خوند سره روانه وه. دا یوازې په پوهنتون پورې نه وه تړلې، بلکې د دې اور لمبې هره خوا بل کړای شوې وې. د همدې فرهنګ سوځونې او کتاب سوځونې یوه ښه نمونه د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شورای نظار د ټوپکیانو له خوا په ویاړ سره تر سره شوي، چې ښاغلي پرتو نادري په خپلو سترګو لیدلي او په ډېر هنرمندانه ډول یې د «کتاب سوزان در انجمن نویسندگان افغانستان» تر سر لیک لاندې انځورکړي ده.
زه یې دلته د ټوپکیانو د کتاب سوځونې او فرهنګ سوځونې د یوې نمونې په ډول یوازې یوه وړه برخه را ژباړم. درانه لوستونکي کولای شي، د سویدن په ستاکهولم کې د خپرېدونکي «فردا» مجلې د۱۳۸۱ هجري شمسي کال د سرطان ــ اسد ګڼې شلم مخ ته مراجعه وکړي او بشپړ متن یې ولولي:«

## د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې کتاب سوځونه

... په پای کې ټوپکیانو د افغانستان د لیکوالو ټولنې د رییس دفترهم قبضه کړ، او موږ ټولو د انجمن د تحریراتو رییس، سید حاکم دفتر ته ور په ښت شوو. د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې دا زموږ وروستی سنګر و، که کومه ورځ داسې شوې وای چې موږ دا کوټه هم له لاسه ورکړې وای، نور به د لیکوالو ټولنه یوازې یوه عسکري قطعه وه او بس.
کوټه ډېره وړه وه او د افغانستان د لیکوالو ټولنې پاتې غړي مجبور وو، چې خپلې ورځې په کې تیرې کړي.
یو قومندان او د هغه نږدې یار، د افغانستان د لیکوالو ټولنې له ریا ست نه د خوب کوټه جوړه کړې وه. د ریاست په کوټه کې د چهارمغز له درانده لرګي ځخه جوړ یو غټ میز ایښودل شوی و، چې ښکلي او زړه وړونکي نقشونه پرې کیندل شوي وو...
دا میز له لویې حوصلې، د مجاهدینو د دوران له ټپونو او ناخوالو سره د طالبانو دورې ته هم په میراث پاتې شو، ښایي یو دلیل یې دا وي چې د دروندوالي په وجه یې رستم ډولی سړی په کار و، چې بل ځای ته ولیږدول شي...
د ټوپکیانو قومندان له دې میز نه د خوب د کټ استفاده کوله او موږ په ورځو، ورځو لیدل چې یو څوک پرې ویده وي.
کله چې د۱۳۷۱ لمریز کال ژمی را ورسید، د دې میز تر څنګه بخاری کیښودل شوه، د بخاری خوله د بې ادبانو د خولې په ، خیر تل خلاصه وه.
عجیبه بخاری وه، کتابونه یې لوستل، او شپه او ورځ یې لوستل، خو د شپې له خوا یې په رښتیا ډېره مطالعه کوله. لیکه په لیکه یې لوستل نه کول، بلکې فصل، فصل او ټوک، ټوک مطالعه یې کوله. واژه خوله یې درلوده او له کتاب نه یې یوازې درې پایلې تر لاسه کولې:

**تودوخه،**
**لوګی،**
**او ایرې.**

د رییس کوټه چې نور د قومندان د خوب کوټه وه، کله به چې موږ د دې کوټې د کړکۍ له مخې تیریدلو، تر سترګو لاندې به مو دې عجیبې بخاری ته کتل، لیدل مو چې بخاری پر له پسې مطالعه کوي ...»

په دې ډول له ټوپکیانونه انسانان لا څه چې کتابونه هم خلاص نه وو.
دا د دویم لاس خبره نه ده، زما د سترګو لیدلی حال دی. پوهنتون هسې په نامه پوهنتون و. یوازې تون یې پاتې و، او پوهه یې په خپل کار پسې تللې وه. وحدتي ټوپکیانو له پوهنتون څخه لیونتون جوړ کړی و.
اوریدې ببرې څنې، مردار ناولې مخونه ټوپکونه په اوږو؛ دلې، دلې هره خوا ګرځیدل. دا وخت پوهنتون د یو ریښتیني زندان حیثیت درلود؛ خو د وحدتي ټوپکیانو اصلي زندان د ادبیاتو په پوهنځي کې روسي ډیپارتمنت و، ځکه چې د روسي ځانګې د ژبې زدکړې د لابراتوار خونې اوسپنیزې پنجرې درلودې. د وحدتیانو له خوا ټول اسیر کړای شوی خلک په دې لابراتوار کې ساتل کیدل.
وحدتي ټوپکیانو (د ایران د نیابتي جګړې سرتیري) دا وخت دوو خواوو ته خوله اچوله:
د آسمایي د غره د پاسه د شورای نظار لیوانو ته او په میرویس میدان کې د سیاف جان؟ ټوپکیانوته.
جګړه خو اصلاً وحشت دی. خو دوی دا وحشت، د کلمې په اصلي مفهوم تر سره کاوه. تر هغه جالبه خولا دا ده چې تر نن پورې ویاړ هم پرې کوي او په بدل کې امتیازونه هم غواړي.
ټوپکیان او په ځانګړي ډول د دوی رهبران او قومندانان کراولي (کراولیان) دي. کراولي د شلمې پیړۍ په څلورمه لسیزه کې د امریکا تر ټولو ستر او وحشي قاتل و. هغه په دوو تومانچو سره انسانان داسې وژل، لکه ښکاري چې په چریز ټوپک باندې د یوې پر ځای، شل او دیرش مرغۍ په یوه وار په وینو کې لیت پیت کوي.
کراولي د ۱۹۳۷م کال د مې په اوومه نیټه په نیویارک ښار کې وروړسته له یوې خونړۍ جګړې ژوندی ونیول شو. کراولي ټپي شوی و او د خپل ټپ په وینویې په کاغذ باندې داسې لیکلي وو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«تر دې کاليو لاندې يو ستړی، خو مهربانه زړه پروت دي، هغه زړه چې هيڅ چا ته به لطمه و نه رسوي.»

ټوپکيان، په تيره د دوی مشران او قومندانان لکه مزاري جان؟ سياف جان؟ مسعود جان؟ دوستم جان؟ ګلبدين جان؟ رباني جان؟ او نورجان او جانان، کټ مټ د دوه تومانچه اي کراولي په شان دي. دوی وايي:

موږ ډير مهربانه يو، هيڅ چا ته مو ضرر نه دی رسيدلی او نه به ورسيږي، خو په دواړو لاسونو کې يې سلاح وي او ګرد چاپيره خلک وژني، داسې يې تويوي لکه پاخه توت. ښه مثال يې د کابل خلک دي.

او په پای کې کراولي په اعدام محکوم شو. د ژوند په وروستۍ شيبه کې يې ويل:

«زما سزا دا ده چې ما له ځانه دفاع کړيده.»

د وحشي قاتل کراولي دغه خبره په اوسني وخت کې، معاصر کراولي مسعود جان؟ په عين شکل عملي او تکرار کړيده. مسعود جان؟ هم لومړی خلک قتل کړل، کابليان يې په اورکې نينې کړل، د کابل هډونه يې وسوځول، وران يې کړ، په کنډواله يې بدل کړ او بيا يې د قهرمان؟ په نامه ويل:

«مه از کابل دفاع کديم.»

زه څه د پاسه يو کال د ټوپکيانو په حاکميت کې جبراً پاتې شوی يم. ډير څه مې ليدلي او اوريدلي دي. دغه مسايل او پيښې خپله د ټوپکيانو پلويانو، د دوی مخالفينو، مورخينو، آزادو او تړلو ژورنالستانو او ځينو پيبلو او نا پيبلو اشخاصو ليکلی دي؛ خو زه به يې دلته څو وړې نمونې چې له سر نه تر پايه پورې مې په خپلو سترګو ليدلې، تاسو ته وليکم:

د سياف جان؟ اتحاد اسلامي او د مزاري جان؟ حزب وحدت اسلامي خپلو منځو کې ډيرې جګړې کړي دي، خو درې دا يې ډيرې خونړۍ جګړې وې.

دغه جګړې په اصل کې د وحدت او اتحاد جګړه نه وه، بلکې د ايران او عربستان نيابتي جګړې وې چې هر يوه غوښتل په سيمه کې د خپلې خوښې واکداري او خپلې خوښې وړ مذهب ريښې وغځوي او د دې ناروا جګړې خوراک د عامو افغانانو غوښې او وينې وې.

څنګه چې دا جګړه په سيمه او په ځانګړي ډول زموږ په هيواد افغانستان کې د ايراني شيعه ايزم او د عربي وهابيت د نفوذ، خپريدو او واک ته د رسيدوله پاره وه، بايد د جګړې اصلي ميدان يا ايران وای يا عربستان؛ خو له بده مرغه چې نوم وړوو هيوادونو زموږ د خلکو له مذهبي احساساتو او نا پوهۍ نه استفاده وکړه او د خپلو عاملينو په ډول يې وکارول.

د جګړې ډګر يې کابل پوهنتون، دهبوري، د رحمان بابا ليسه، ميرويس ميدان او د کابل د سيلو سيمې وې. دا چې د جګړې په لړ کې د دوی مرمۍ د کابل د نورو سيمو خلکو ته د تحفې؟ په ډول ورتلې، د هغودې خدای مل شي؛ خو«غم ده د لالي په سر...» اصلي ميچن د يادو سيمو د اوسيدونکو پر سر باندې ګرځيده او د ميچنې لاستی په دوو لاسونو تاويده:

يو د سياف جان؟ مبارک لاس؟ و او بل يې د مزاري جان؟ مبارک لاس؟ .

په دې درې واړو جګړو کې زه له خپلې کورنۍ سره په دهبوري کې د خپل کور په تلخونه کې تقريباً درې مياشتې ايسار پاتې شوی يم.

د کابل پوهنتون په غربي څنډه کې د پوهنتون ملکيت يو شمير کورونه وو، چې د کابل پوهنتون استادان او مامورين په کې اوسيدل. په دې ډله کې يو هم زه وم. دې کورونو په خپل منځ کې د حويلۍ ديوالونه، نه درلودل. زما په ګاونډ کې د ښوونې او روزنې پوهنځي رئيس استاد ډاکتر حضرتي، د ادبياتو پوهنځي استاد عتيق الله نصرتي، د پوهنتون د فرمايشاتو مديرعبدالرحمن او د پوهنتون د اديتوريم مدير له خپلو کورنيو سره ژوند کاوه؛ خو له بده مرغه موږ يو نا بللی ګاونډی هم درلود. دا ګاونډی د وحدتي ټوپکيانو يو مشهور او ظالم قومندان و، چې شفيع ديوانه يې باله.

زموږ کورونو د کابل پوهنتون د نجونو له پاره د نوې جوړيدونکې ليلې په څنګ کې موقعيت درلود، يوازې يو ديوال مو په منځ کې حايل و. دې نوې جوړيدونکې ليلې ډير پراخ انګړ درلوده. د ليلې په ودانۍ، انګړ او د دهبوري د چوک په شاو خوا کورونو او دکانونو کې د شفيع ديوانه امپراتوري جوړه وه. د دهبوري په څلور لارې کې د همايون عاطفي د رسامۍ او خطاطۍ کورسونه هم وو. دغه شفيع ديوانه د همايون عاطفي په هنرمندو ګوتو ايستل شوې تابلوګانې او ليکل شوې ښکلې خطونه په ډيرې بې رحمۍ د باندې را ايستلي وې او د دهبوري په چوک کې يې د برق پايې ته درولي وو چې بيا په ړندو مرميو سورۍ سورۍ شوې، خو نارې سورې يې چا وانه وريدې، پرته له څو ګوتو په شمار با احساسه انسانانو او د همايون عاطفي هنرمند زړه.

شفيع ديوانه لکه د ټوپکيانو د نورو قومندانانو غوندې د هر څه واک درلود. نيول، وهل، تړل، وژل او هر څه يې کولای شول. ښه ده و ويل شي چې:

«امارات متحده دهبوري» چې امپراتور يې شفيع ديوانه و.

بې له ډزو يې طاقت نه کيده. کله به چې د دوی مشرانو د خپلو اکمالاتو او له خپلو بادارانو نه د نويو دساتيرو د ترلاسه کولو له پاره ډزبندي وکړه، شفيع ديوانه به يا سپي په کلاشينکوف ويشتل او يا به يې کوم شی د سلو يا دوو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سوو مترو په اندازه لیرې کیښودل او په ښه به یې ویشتل او په دې ډول به یې خپله د وهلو، ویشتلو او وژلو وحشیانه تنده ماتوله.
کله به چې د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ «چغل بازی» پیل شوې، نو جګړه به د دوی په ویاړ ښه په زورکې شوه. د وتلو او تښتیدلو هیڅ امکان نه و. زما د کور لاندې ښه محفوظه تلخونه وه؛ نو موږ ټول ګاونډیان په دې سلا شوو چې ښځې او ماشومان دې زموږ په تاکاو کې پناه واخلي او د نارینوو له پاره مو یو بلنداژ وکینده، اوږده قوي لرګي مو پرې کیښودل، لکه په مرې یې چې اچوې، دغسې مو ښه ډیره خاوره د پاسه پرې واچوله.
وحدتي ټوپکیانو د راکټ د ویشتلو دستګاه نه درلوده، له دهبوري نه به یې سکر شل راکټونه له لرګو نه جوړه شوې سه پایه باندې سپاره کړل، مخ په ښار به یې برابر کړل، لین به یې د راکټ له وروستنی برخې نه چیرته لرې کوم دکان یا کوټې ته وغځاوه، نور به یې د بطرۍ په وسیله شارت کړ او ور ته وبه یې ویل:
«بروبخیر!»
راکټ به چې د آسمایي له غره د زخمي کابل مرکزي سیمې ته ور واوښت، دوی به ډیر خوشحاله و چې د مخالف لوري سیمه یې ویشتلې ده.
دا وخت د ښار مرکزي برخه د رباني جان؟ او مسعودجان؟ غنیمت شمیرل کیده.
موږ ټوله ورځ د همدې راکټونو د دمبورې په اوریدلو محکوم وو. د ورځې په جریان کې به مو کله، کله ، لکه د شپون صاحب خبره «ښځګلو» ته اوبه او ډوډۍ ور رسوله او د هغوی د ډاډ له پاره به مو سر ور ښکاره کاوه. یوه ورځ چې وحدتي ټوپکیانو، د دوستمي ملیشوو په ملتیا، د رحمان بابا د لیسې د نیولو تکل درلود، د پوهنتون له خوا یې مخ پر دهبوري مارش کړی و. ما چې ښځګولو ته اوبه ور رسولې، که کتل مې چې زما د کور پربام باندې وحدتي ټوپکیان ولاړ وو. زه یې وپوښتلم:
«کیستی، چي میکني؟»
ما ویل دا مې کور دی، دلته اوسیږم. یو بل تن چې حویلی کې و، په بیره راغی، زه یې تلاشي کړم او وې پوښتلم:
«ده تاکاو کیس؟»
ما و ویل زما او زما د ګاونډیانو ښځې او ماشومان دي.
مخامخ تاکاو ته ښکته شو. میکاروف روسی تفنګچه یې په لاس کې وه. هرې میرمنې ته یې جلا، جلا تفنګچه نیوله او پوښتنه یې ځینې کوله:
«قوم تو چیه؟ کي اوغویه؟»
زما کشرۍ زوی پسرلی بهاند دا مهال د غیږې ماشوم و، نوې یې مورنی ژبه پښتو زده کړې وه. زه په دې ډاریدم چې د دې سرې تر مخې یو وار و نه وایې: مورې ډوډۍ غواړم.
وروسته له پوښتنو سرې بیرته و وت او ټول د دهبوري د چوک پر لوري مخ په منده شول. دوی خپلو منځونو کې د رحمان بابا د لیسې د افادې له پاره، د لیسې کلمه نه تلفظ کوله، یوازې رحمان بابا یې ویل. یو تن چې لا زموږ د ګاونډې پر بام ولاړ و او له اوږې ویشتونکی راکټ یې پراوږه اړولی و، ورته و ویل شول چې:
«بزن! رحمان بابا ره بزن!»
ما زړه کې و ویل چې رحمان بابا مو وشرموه، هغه څه کړي دي چې په راکټ یې ولئ.
په دې ورځ وحدتي ټوپکیانو، د دوستمي ملیشوو په ملتیا د سیاف جان؟ ملا ور ماته کړه، په سیافیانو یې زړه سوړ کړ او سخته مرګ ژوبله یې ور واړوله.

«اصلي ویاړ د اوښکو په وچولو کې دی، نه د وینو په بهولو کې»

(بایرون)

د دریمي برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ